# تنکي ارمانونه

لومړۍ شعري ټولګه


کتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| دکتاب نوم | :: | تنکي ارمانونه |
| لیکوال/ شاعر | :: | ملک محمدرمضان مشواڼي |
| قلمي نوم | :: | ارماني |
| کمپوز | :: | په خپله شاعر |
| سرپاڼه | :: | رشید احمد مشواڼي |
| چاپ شمېر | :: | پنځه سوه ټوکه |
| چاپ کال | :: | مي ۲۰۱۳ |
| بیه | :: | سل کالداري |

غزنوي خپرندوې ټولنې تخنیکي څانګه    سویس پلازه کویټه


## ټروُن

په نامه دهغه لوي ځښتن چي زما په شان یې وډیرو نورونا پوهانو ته څه لږغوندي دقام دبیداري شعور ورکړی دی.

## زما خبري

زه خودومره لوي شاعرنه یم چي په ځان ویاړوکړم ما خوبس اوس هم دادی دزده کړی په چوکاټ کښنی لومړی ګام اېښنی دی.اوغواړم چي زمادالنده غوندي شعري هڅه ترتاسو پوري درورسېږي.اوتاسوزمانېمګړتیاوي وما ته راپه ګوته کړی.چي له ماسره کومي تېروتني شوي دي. زه دهغوټولو ملګروپه ځانګړي توګه دغلام محمد مجلسیار مشواڼي زمادلومړۍزدهکړوښوونکي ماسټرعبدالباقي او زمادودوستانوچي زما شعرونه یې زمزمه کړي دي لکه طاهرفیروزاوعاصم ګلستاني دژورنالستاني په ډګرکښي ترټولوزیاته مننه دجهانزیب اڅکزي کوم چي دده دلاري د ژورنالیستي وڅانګي ته راغلم اوبیادعبدالکبیرشاکرهم مننه کوم چي هروخت یې زما په شان دنورو پښتنوژورنا لسټانو د روزګارغم کړی دی ددوي مننه کوم.هم دغه شان دنعمت الله اڅکزي، جبارخان کاکړاودسیدانورشاه هم مننه کوم چي دوي پخپلو ورځپاڼو کښي دلیک کولوموقع په لاس راکړه.د دې ټولو ترڅنګ دمحمدهاشم پروانه مشواڼي هم مننه کوم چي لماسره به یې خپل هنرشریکوای.مامخ کښي هم ویلي ووچي دادبي زدهکړوپه چوکاټ مي هم دا اوس ګام اېښي دی ځکه زما په خبروکښي به ادبي خبره لږاو خپل دهغودوستانوذکرډیروي چي په هرډګریې له ما سره کومک اوپه زړه پوري مرسته کړې ده.په دې ملګرو کښي یوڅونومونه رانقل کوم لکه ګران ملګری نصرالله زېړي ،عباس شاه مخلص مشواڼي،طیب عادل مشواڼي ، حاجی جمال تره کی ، محب الله محبوب،اکرم دلیار، نذیر وفا ،ملک عرفان مشواڼي ،عبدالقدیر،آغاجان همدرد ،علي جان خوشحال، عظمت اڅکزی، ظفرالله اڅکزی، نقیب الله کاکړدبوستان اودپښتونخوا ګوند نورو ملګروچي زما مرسته کړې ده اوتردې مقام یې را رسولی یم چي نن زمادالنده غوندي شعري ټولګه بشپړه شوې ده.زما په دې خبروبه ګڼ شمېرملګري نیوکي وکړي خوڅه وکړم چاچي زما ډاډ ګیرنه کړې ده بایدچي هغه وستایم. زمادشعري ټولګۍ نوم ښاغلي علي جان خوشحال چي زماملګری دی غوره کړیدی.زه خپله دغه شعري ټولګه دپنجپاي ډیرتکړه شاعراوخپل ګران ملګری غلام محمد مجلسیارته ډالۍ کوم.

ستاسویوه نړۍ مننه        ملک محمد رمضان ارماني سهیلي پښتونخوا کویټه

ramzanarmani@gmail.com 03458337726

# حمد

لاس په دعايم کړم سوالونه زه وتاته الله
منکرخونه يم چي زاری کړم وبل چاته الله

ته مهربانه ته رحيم اويې خالقه ذاته
پروت ګنګاريمه هروخت ستاودرګاه ته الله

داستاله قهره پناه غواړمه خالقه خدايه
نيولي سترګي مي هروخت دي ستاوخواته الله

مشرک خونه يمه چي تاسره شريک ګڼمه
سوزي په اورکښي چي سرټيټ کړي وبل چاته الله

دخپله دره ارماني ته يوځه ورکړه خدايه
په سترګوسرودرته ژړيږي ستادرګاه ته الله

***

# نعت

زما عشق په خپل جانان دی بل به څه کړم
چي سردار ددوو جهان دی بل به څه کړم

چي په راتګ د محمد تياري رڼا شوي
دا نبي آخر زمان دی بل به څه کړم

ده رحمت العللمين رالېږل شوی
هم زموږد سترګو توان دی بل به څه کړم

هرڅوک واي چي روان د ده په لاره ويه
داارمان دمسلمان دی بل به څه کړم

زي اُمتي يمه دده په لاربه ځم
بس هم دغه مي ارمان دی بل به څه کړم

زه بنده دلوي ښنتن په ده نازيږم
پرالله باندي ډيرګران دی بل به څه کړم

د الله دی نازولی په موږ ګران دی
صفت خوا یې رمضان دی بل به څه کړم

***

زما زړه ستا د مینې کور دی کور دی
بل چې په ماد مینې اور دی اور دی

زه ځکه ژاړم خود به ژاړم ارمان
زړګی زما له دنیا تور دی تور دی

زړه سوځوم دآزادۍ په لاره
لکه دښمن چې مې خپل ور ور دی ور ور دی

په غرو کښې ستا د عشق شپیلۍ وهمه
دلته زما د جانان کور دی کور دی

ته په دې خاوره لکه نه یې مینن
لیلا وطن نه دې زړه موړ دی موړ دی

په ښکلې نوم دی ارماني شوم شیدا
زړه مې بدل په سوې سکور دی سکور دی

***

په غم کښې د دنیا چې ته جلا را سره نه شې
مینن یمه پرتا چې بې وفا را سره نه شې

په زړه کښې مې غمونه تارا کړي دې جانانه
اوس ګوره چې جلا ته په رضا را سره نه شې

دا اورم چې خفه یې نن له ما سه په ما ګرانه
قسم دی که زه ولاړ شم چې په خلا را سره نه شې

پوهېږم چې مینن یې زه خو هم پرتا مینن یم
له مانه مرور چې په دنیا را سره نه شې

خوار و زار زه ارماني یم په تا پسې جانانه
اوس ګوره رمضانه په ژړا را سره نه شې

***

څه ښکلې نشه ده ستا په سترګو کښې
څو مره ښه مزه ده ستا په سترګو کښې

سرې لمبې خورې دي په وطن اشنا
دا څه توره شپه ده ستا په سترګو کښې

رابې کړه په مینه چې نشه شمه
ما ته اوس نشه ده ستا په سترګو کښې

یو ورورد بل ورورنه غلا کوي دلته
دا بده قیصه ده ستا په سترګو کښې

مه یې وېښوی په خوب کښې ده ورکه
زما لیلا ویده ده ستا په سترګو کښې

زه ارماني ډير په مینه وایمه
زما د زړه قیصه ده ستا په سترګو کښې

❋❋❋

محبوبي ستا د سترګو جنګ ښه نه دی
په تندي خال په شونډو رنګ ښه نه دی

راځي چې ختمه غلامي کړو زیاته
کول بیا ویاړ د بل په ننګ ښه نه دی

چې ته راځې بویې جهان خبر کړي
په غاړه ستا لاچې لونګ ښه نه دی

خو ښه مې توره بنګړي څه کومه
پېغلې دا ستا د بنګړو شړنګ ښه نه دی

محبوبي پر پرده د رقیب خویونه
تله د رقیب سره په څنګ ښه نه دی

راواخلی توري ځودننګ په لاره
دپلارپه توره مودازنګ ښه نه دی

راځي چي وکړه نن غیرت په وطن
غلام سړی پروت پرپلنګ ښه نه دی

راځه راځه ارماني ګران پښتونه
په ماوتادرقیب جنګ ښه نه دی

***

نن چي ماپرتااوتاپرمالاسونه واچول
دي ظالم رقیب مي پرلیلالاسونه واچول

ولاړم تومتي شوم ستاپه مینه کښي جانانه زه
ولي دي جانانه پربل چالاسونه واچول

زه په لځوپښواوپه ازغودرتلمه تالره
ځنګه تاپربل ښایسته اشنالاسونه واچول

ځنګه له ماولاړې ببوفاشوې ته دبل ګلي
زه یم وفادارماپروفالاسونه واچول

ماچي ویل ته به یې جانانه ننګیالی پښتون
ته شولې بې ننګه تاپرچالاسونه واچول

ته خودرقیب په خولې جلاشولې له ماګلي
هېرمي کړه غمونه ماپرتالاسونه واچول

هېربه کړم هرڅه ګرځم خوشحاله ارماني یمه
ګرځم په خنداچي تاپرمالاسونه واچول

***

وطنه ستاوځګوغروته سلام
ستاوبهادره ننګیالوته سلام

دخپل وطن په مینه پایمه زه
زمادمیني وجذبوته سلام

چي غلامي قبوله نکړی په ځان
وداسي ښکلو پښتنو ته سلام

دپښتونخوا د آزادی په نامه
چي کوي جنګ وتوريالو ته سلام

چي قربانۍ دپاره تل وي تيار
ناست په سنګرکښي شازلمو ته سلام

داچي روان دي ځي دجنګ ميدان ته
دخان شهيد ودې بچوته سلام

چي دوطن په نامه ځان کړي قربان
ددې پښتون و ولولو ته سلام

تل يې ساتلی دی وطن دپښتون
د خپل مشرانو وجرګو ته سلام

د پشتونخوا د خپلواکۍ لپاره
دارماني ودې شعروته سلام

***

رادي کړل لاسونه په لاسونو کښي
ورک مي شول غمونه په غمونو کښي

اوس شومه خوشحال چي خوشحالي شوله
مخکښي سوځېدمه په اورونو کښي

ستا پر خمارو سترګو شيدا يمه
راکه ماته جام ته په جامونو کښي

بياوينم په سپينه ورځ خوبونه ستا
رنګ مي شي خوبونه په خوبونو کښي

مينه مي په زړه قبوله ستاده اوس
ځکه خواوس ورک شوم په سوچونو کښي

نن د ارماني دزړه خبر واوره
کړي ديه شاعري چي په شعرونو کښي

***

داوطن ګټل غواړي ځوانانو
وينه تويول غواړي ځوانانو

نن مي بيا پښتون زړګي په مينه
څه نه څه ويل غواړي ځوانانو

زړه مي دافغان په وطن ژاړي
اوښکي تويول غواړي ځوانانو

هسي پروطن آزادي نه راځي
سرخو پرېکول غواړي ځوانانو

چي بلي کړی ډيوې تياري به ځي
څه خوبلول غواړي ځوانانو

کوم چي ارماني ويني په خوب کښي
هغه ژوندکول غواړي ځوانانو

***

په سره جوړه کښي ښاپېرۍ ښکارېږي
ليلا دګل غوندي غوټۍ ښکارېږي

منګۍ په سرچي ځي ګودرته کله
بيا نو د غرونو شهزادګۍ ښکارېږي

ماليونی کړي رانه ورک شي خپل ځان
چي راته راشي شين خالۍ ښکارېږي

دښکلو منځ کښي چي راځي په مينه
خومره ښايسته لکه کوچۍ ښکارېږي

کوي هروخت راته دننګ خبري
دا ميوندواله ملالۍ ښکارېږي

ناستې انځورته ارماني دشپې یم
په سرزما لکه سپوږمۍ ښکارېږې

***

دیارپه سترګو کښې پرته ده مینه
ثو مره خوږه ثو مره ترخه ده مینه

ته د پخوا په سترګو وګوره لږ
لا مې په زړه کښې ستا خوره ده مینه

ستا د راتلو لارې به کړمه جارو
زړه کښې زما چې لا توده ده مینه

زه که دا ستا دیدن کولای نه شم
له ما سره دې را سره ده مینه

غمو نه لیرې که له ما نه ګله
ستا چې مې زړه کښې میلمنه ده مینه

یم ارماني لا طلبګار د میني
هېره مې نه ده ستا قیصه ده مینه

***

بیا په سترګو سرو د خپل اشنا له ښاره ولاړم
وو ډیر رقیبان چې د لیلا له ښاره ولاړم

بس ده دومره مینه چې مې وکړه لتا سره
زه خو با وفا وم هم په دا له ښاره ولاړم

ما خو پکښې مینه لټوله مینه نه وه
ځکه لکه خپل داسې دا ستا له ښاره ولاړم

ولې مې په کاڼو راته ګورې د ښار خلګو
ټول زخمي زخمي یم په ژړا له ښاره ولاړم

د بې وفا ښاروو پروانه کړمه تېر لاړم
خیر دی که نن بیا زه په ژړا له ښاره ولاړم

هيڅ ګيله مي نشته رمضانه له هيچا څخه
هسي ارماني يم په رضاله ښاره ولاړم

***

تل به نازېږو موږ په تا رهبره
د پاکي خاوري پښتونخوا رهبره

رهبره کله دا غيارو نه شي
خلګ راټول دي نن په تا رهبره

د غريبانو يې د ژوند ملګرى
مينه په زړه لري رښتيا رهبره

په تا نازېږي د وطن خلګ ټول
ته يې د ټولو رهنما رهبره

ځکه اولس درته دعا کوي نن
رمضان دي ستاي په ادا رهبره

***

خبر که تېرېږي خو په ما تېرېږي
دا د غم ورځي چي اشنا تېرېږي

چي راځي نه ګوري وما ته ليلا
چي په کوخه کښي شاه ليلا تېرېږي

منګى يې واخيستي اوشوه روانه
چيري چي ګوري په خندا تېرېږي

دورورپه وينو مي دى سره لاسونه
دبي وسى ژوند دى پر ما تېرېږي

راغله په مينه اوس زما شوله دا
راځي کوځي ته په خندا تېرېږي

هغه به ورځ وي آخري دژوندون
کله اغيار چي په دې خوا تېرېږي

دوروروليږ خبري وکړی تاسو
بيابه هيڅوک نه په ژړا تېرېږي

ولاړه له مانه دبل چاشوه ليلا
اوس نو په پټه ببوفا تېرېږي

نازېږي مه په خپل ځواني باندي ته
اې ! ارماني ځواني هم ستا تېرېږي

***

نه ددولت نه ددنيا خبري
موږ خو کوو پښتونخوا خبري

که موورياددپاني پت ميدان شو
هرڅوک به کړي داحمدشاه خبره

جوړکړل ځوانانو لښکرونه دجنګ
ورځي ميدان ته کړي رښتيا خبري

پرې ږدي يې مه ځه دشهيد په لاره
کوي خاين په کورکښې دا خبري

تاچې اشناله خپل اشنانه بېل کړه
کوي رقيبه خلګ ستا خبري

يمه ميئن په پښتنو ارماني
ځکه کوم زه دشيرشاه خبري

تا چې يادومه دسلګوسره
اوښکي تويومه دلېموسره

زړه ته دي ورتېره داخبره که
ګوره چې تېټ نه شې دکتوسره

عشقه زه پشتون يمه مجنون يمه
تابه کړم قبول زه دپښتوسره

ننګ چي په پښتو او پښتونخوا کوي
زه ورځم دداسي مېړانو سره

سترګي دي راوړه وه مېئن يمه
سترګي خپلو مه دبڼو سره

ولاړمه له کلي مسافر شومه
ورک مي شو قرار د تېر وختو سره

زه شوم دربدره بېوفا شوې ته
بيابه دي په خله کړم دجرګو سره

خوارکه ارماني يم پروانه کوي
نه يمه غلام چي ځم پرېدو سره

***

دا ستا په زنه چي خالونه ډېر دي
دومره په زړه زمادردونه ډېر دي

نه وي دشپې اونه دورځي قرار
څومره په زړه کښي مي زخمونه ډېر دي

خداي به آزاده پښتونخوا کړي زموږ
دلته د نورو پېغورونه ډېر دي

زه انتظار ستا د راتلو کومه
ستا د لېدو مي ارمانونه ډېر دي

مخ کړه څرګنده چي دي ووېنمه
لامي په ژوند کښي نور غمونه ډېر دي

راځه چي وکړو د اخلاص يارانه
دپاکي ميني تومتونه ډېر دي

زه ارماني په تامېئن يم ګوره
زما لتاسه اميدونه ډېر دي

***

نه خوښوم د ښنګړو شړنګ محبوبي
غواړم چي شم په وینو رنګ محبوبي

زه چي آزاده پښتونخوا خوشوم
کومه زه په وطن جنګ محبوبي

ورک به خاینان کړم له وطنه ټول
ورباندي زه کوم غورځنګ محبوبي

دا پښتانه دي چي جنګېږي هر وخت
دښمن وي په وینو رنګ محبوبي

ماته پښتوا و پښتونخوا ده ګرانه
کومه زه پر پښتوننګ محبوبي

د سنګرخواته چي زلمي روان دي
ولاړیږ زه یمه پر څنګ محبوبي

خوار ارماني یم پښتونخوا جوړم
نه کوم خوب زه پر پلنګ محبوبي

❁❁❁

راځي چي وکړو فېصله ملګرو
زیاته به نه کړو اند ښنه ملګرو

جاربه سرو مال کړو تر وطن زلمو
وبه کړو خپلو کښي جرګه ملګرو

پر ېږدمه نه زه خاینان په وطن
زماده ټینګه اراده ملګرو

زه به وریاد کړم ابدالي و میرویس
په وطن جنګ کړم همېشه ملګرو

د ننګ په لاره چي هر وخت روان یم
ننګ او غیرت مي دی نشه ملګرو

خوار ارماني يم بس هم دومره وايم
خپل قام به نه کړم تماشه ملګرو

❋❋❋

مه مي وينبوی په خوب وېده ښه يم
ورک ددې دنيا دغمه زه ښه يم

پرېږده چي خواره وي تورزلفان په ما
پروت دخپل جانان په زنګانه ښه يم

نه کوي ياري له ماسره قسمت
زه سترې ستومان په ژوندانه ښه يم

کله به راځې زما په خوا اشنا
ستا په غم کښې زه وېده وېده ښه يم

پرې مي ږدۍ چي وسوځم اېرې شمه
پروت زه په انګار دبېلتانه ښه يم

تا ته په ارمان ارماني وايمه
زه په تيغ زخمي دبېلتانه ښه يم

❋❋❋

سترګي ديار مي ډيرياد ېږي ماته خوب نه راځي
دزړه په سرمي راورېږي ماته خوب نه راځي

خبرزه نه يم چي وختونه په ما څنګه تېرشي
هسي مي زړه راته تنګېږي ماته خوب نه راځي

په نېمو شپو شمه بېداره ستا تصويرته ګورم
دهجراورپه مابلېږي ماته خوب نه راځي

زه خوساده يمه هروخت دي يادوم په مينه
داستاخندامي نه هېرېږي ماته خوب نه راځي

هروخت په مينه راته وکړه دپښتوخبري
داپښتونخوا به اوس جوړېږي ماته خوب نه راځي

زه ارماني يې يادوم مدام په مينه مينه
اوښکي په مخ زما بهېږي ماته خوب نه راځي

***

هريو ارمان مي دي ستومانه چاته وژړېږم
ګرځم خفه يم له خپل ځانه چاته وژړېږم

نېمګړي پاته ارمانونه مي دخپل زړګي شو
پوره مي نه شولې ارمانه چاته وژړېږم

په نېمو شپو شمه راوېښ ستاوتصويرته ګورم
ته بېوفاشوې په ماګرانه چاته وژړېږم

دغه سپرلۍ داخوشحالي مي په نصيب کښي نه ده
ورک شمه ورک شم له جانانه چاته وژړېږم

باورمي نشته په هيچاځکه تنهاګرځېږم
سوځم په اورکښي دهجرانه چاته وژړېږم

خبرېږي زه يم ارماني يم بېوفاشوا شنا
ليکم شعرونه دخفګانه چاته وژړېږم

***

ستاله يادونو سره ژوندکومه
له دېرغمونو سره ژوندکومه

ته خو خندا اوزه ژړا کومه
ستا تصويرونو سره ژوند کومه

چي ټوله شپه يم ناقراره مدام
زه له زخمونو سره ژوندکومه

وايم چي رابه شي ښايسته ليلامي
له دي سوچونو سره ژوندکومه

په زړه مي دېرداغونه ستاپراته دي
دکړهاونو سره ژوندکومه

دګل په قدر کله زه پوهېږم
کله ګلونو سره ژوند کومه

په دې خوشحاله ارماني پښتون يم
چې د خپل ورونو سره ژوند کومه

***

ستړګي مې ستا سترګي لېدل غواړي
دزړه ارمان پوره کول غواړي

نشته باور مې اوس په چابا ندي
دا بې باوره هېرول غواړي

دزړه قراردې رانه وړی تا
دغه زړګي مې صبر ېدل غواړي

تې چې له مانه کړې جدا ليلا
دا رقيبان په اور سېزل غواړي

چې پښتنه وې بيا جفانه کوي
کله دا خپل اشنا دا غل غواړي

راځي چې وو ايو په مينه تړول
مينه وفا سره تړل غواړي

زه ارماني خپل پښتانه ستايم
دا پښتونخوا هم خپلول غواړي

***

په اوښکو لوند مې شو ګريوان عالمه
ژړا کوم له ډېر خفګان عالمه

دا درپدره افغانان چې وينم
خوارو زار ګرځي پرېشان عالمه

خداي به ودان زموږ وطن کړي خلګو
چي دلته وسي لږباران عالمه

رڼا د علم چي خوره وره شي
دلته به راشي ښه دوران عالمه

د وطن کاڼي ښکلوم په مينه
ځکه چي کوردی د افغان عالمه

مدام د غم باران راوري په ما
هر وخت زه ژاړم په ارمان عالمه

زه ارماني د وطن مينه لرم
ځان به قربان کړم په دې شان عالمه

***

چي ستا له کلي شوم روان محبوبي
په او ښکو لوند مي شو ګريوان محبوبي

په لاره تلم ژړا هم ماکوله
په برخه زما شول و خفګان محبوبي

په اوښکو لوند ګريوان زه چاته ورشم
ژړا کوم ډير په ارمان محبوبي

خود به ژړيږم چي ميئن يم پر تا
په اور کښي سوځم د هجران محبوبي

بيا به د ستا کلي ته نه درځمه
زه مسافروم يو افغان محبوبي

زه ارماني دي دزړه کور کښي ساتم
په خنګ کښي اوسه درمضان محبوبي

***

مرم خو پر وا نشته آزادي راوړم
خاندم خوشحاليږم خوشحالي راوړم

سرکه مي په دارشي پروانه کوم
ځکه چي خپل قام لره سيالي راوړم

راچي خوشحالي شي کورپه کورزموږ
ګرځم په کوڅوکښي وروروليي راوړم

يمه ارماني په خپل وطن قربان
سربه کړم په دارچي خپلواکي راوړم

❋❋❋

پاڅي له خوبه پښتنو زلميانو
د پښتونخوا د جګو غرو زلميانو

توري ته لاس کړی په شانه شي ګوری
زموږ د کلی او کوڅو زلميانو

لږمو تاريخ د پلار نيکه وګوری
په ننګ ولاړوو ننګيالو زلميانو

په خپل وطن به پشتانه جنګېدل
څله وېده ياست جنګيالو زلميانو

راځي چي خپله پښتونخوا کړو خپله
بې کوره نه يو توريالو زلميانو

راځي چي وېښ شود غفلت له خوبه
لابه وېده يو موږ ترڅو زلميانو

زه ارماني د پښتونخوا په مينه
ليکم شعرونه د پښتو زلميانو

❋❋❋

زه په فرياداو په ژړاشومه د خپل جانانه
ولاړم له کلی زه جلاشومه د خپل جانانه

هغه جانان مي شوارمان چي په وطن پاته شو
اوس مسافرګرځم تنهاشومه د خپل جانانه

په ټول وطن کښې تو متي شو مه دیار په مینه
ځکه خوو لاړمه فنا شومه د خپل جانانه

ماته یاد یږي دو طن خړي کوځې عالمه
زه چي قربان تر پښتونخوا شومه د خپل جانانه

زه ارماني به ځان قربان کړمه په پاکه مینه
چي په ژړا او په خندا شومه د خپل جانانه

***

مه کوی خپلو کښی جنګونه ګوری
ورانوی خپل ودان کورنه ګوری

تا سو په خپلو کښي یو بل چي وژنې
پرېکوی ځله خپل سرونه ګوری

راځي چي مړه کړو د نفاق اورونه
زیاته به نه کوو مرګونه ګوری

ځله کوی دزی خیلی جنګونه
ورک به موشي ټول تاریخونه ګوری

زه ارماني و پښتنو ته وایم
ورکړی په خپلو کښي لاسونه ګوری

***

په بام ولاړه وه محبوبي اشارې کولې
زړګي زما ورته دلیري نه لمبې کولې

لمبه لمبه مي ټول وجود شو لو په مینه مینه
ښکلي محبوبي چي له ماسره وعدې کولې

وم به خوشحاله رانه ورک به شو دا ټول غمونه
دې چي له ماسره په مینه خوټېې کولې

هغه وختونه رانه تېرشو او س ارمان کومه
هغه په یاد که چی دې ماسره خوشپې کولې

ما ارماني که د خپل ځان په مینه وخانده ته
زه لیونی وم مابه هسي اند ښنني کولې

***

زړه مي نادان دی راته څله ګورې
وخت د هجران دی راته څله ګورې

ماته به جوړ دغه پېغور کړې ګلي
د کلی میان دی راته څله ګورې

ماچي در کړی وو په مینه تاته
ورک دی پېزوان دی راته څله ګورې

د مځکی سر به راته اور کړې لیلا
بل دي جانان دی راته څله ګورې

زه خو په اور دا ستادلاسه سوځم
سخت مي ګزران دی راته څله ګورې

زه ارماني یې لټوم کو څو کښې
ورک مي درمان دی راته څله ګورې

خو مره بېوفاده وفانه لري
ګرانه مي لیلا ده وفانه لري

ناسته د رقیب سره خندا کوي
ګوري بې پروا ده وفانه لري

زه پسي ژړېږم دا جفا کوي
مانه اوس جلا ده وفانه لري

زه باندي میئن یم په ما ګرانه ده
څنګ کښی د بل چا ده وفانه لري

ګوره ارماني چي د هو که بازه ده
تللې په رضا ده وفانه لري

***

سوردي پېزوان وګوره
خپل دي جانان وګوره

زه يم شيدا دميني
ماپه ارمان وګوره

درځمه ستادېدن ته
دسترګوتوان وګوره

وڅنګ ته راشه ليلا
سره دي لبان وګوره

سره دي لاسونه هروخت
هم دي چشمان وګوره

زه ارماني يم مېئن
مارمضان وګوره

***

په نوم به ستاکړم سرقربان وطنه
د پښتنو پښتونستان وطنه

تابه ساتمه د اغيارو څخه
ځکه چي ګران يې په ماګران وطنه

ترڅوبه داسي غلامان يودبل
ترڅوبه ژاړوپه خپل ځان وطنه

تابه ساتي زلمي دسرپه بيه
دخان شيهد او باچاخان وطنه

اغياربه هيڅکله پرې نه ږدو دلته
د احمدشاه او خوشحال خان وطنه

زه ارماني به په تا سرکړم قربان
تابه ساتم دميرويس خان وطنه

***

ستا د یادونو سلسلې دي پاته
دیدن دي نشته د غم شپې دي پاته

ما خو د استا مینه ترسره کړله
د استا له خوا څومره دهوکې دي پاته

زه خوارمانجن ستاد وصال یمه
لا دي د غم ډیري خپې دي پاته

ولاړل سرونه ډیر په دار شو خلګو
لا د منصور چیغې نارې دي پاته

زوي شوله پلاره ! پلار له زویه ورک
زموږ په ښار کښې جنازې دي پاته

کله به وکړم ستا دیدن په مینه
لا مې په زړه کښې وسوسې دي پاته

زه ارماني په زړه غمجن یم ګوره
لا مې په زړه هغه قیصې دي پاته

***

جوړ شو دیوالونه پروانه کوي
ورک شو دیدنونه پروانه کوي

دا زما جونګړه په خطره کښې ده
وي دي توپانونه پروانه کوي

دم په دم وبلیږي زموږ زړونه تل
نه کیږي ګلونه پروانه کوي

ګرځي د غمونو سره دلته ټول
نشته خوږمن زړونه پروانه کوي

هرڅومره ماحول که راته شي ګلزار
نه به کړم خوبونه پروانه کوي

ښنګه به زه یم خوشحال په دې وطن
غواړم ارمانونه پروانه کوي

خوښ مې ارماني دی د هرڅه نه ډېر
خورم که زه دردونه پروانه کوي

***

چې را یاد کړم تېروختونه ژړا راشي
ستا راواخلم تصویرونه ژړا راشي

پرمادې تومتونه درست امبار کړله
چې په یاد کړم تومتونه ژړا راشي

چې تا راته لیکلي وو په مینه ټول
اوس را ټول کړم ستا خطونه ژړا راشي

ستا په اوربل کښې چې پراته وو تل مدام
اوس چې وینم سره ګلونه ژړا راشي

تاویل چې ستا یم بل اشنا به څه کړم
را په یاد شي ستا لوظونه ژړا راشي

د وطن سپېرو کوڅو کښې زه ګرځېږم
نن خالي شو ګودرونه ژړا راشي

ژړام ارماني تصویرته ستا محبوبې
زه دا ستا کوم سوچونه ژړا راشي

سبا به اورې دا قیصه د میني
زما به وزي جنازه د میني

بیا وي را ټول دا رقیبان په تا
څوک به کوي دا افسانه د میني

وفا کول زما ګناه شوه خلګو
وکړمه چاته زه ګیله د میني

وو چي جوړ کړی موږ د ختو کورګی
ورځمه زه په ویرانه دمیني

پروت د جفا داغ دي په زړه دی زما
څنګه به هېره کړم تحفه د میني

ته چي رقیب سره خو شحاله ګرځې
څه به زموږ وي یارانه دمیني

زما په یاد دي لا هغه وختونه
چي وم په مینه دیوانه دمیني

ستا د جفا پېغور چي راکړی ماته
شمه په مینه شرمینده دمیني

زه ارماني جانانه ستا په خاطر
لیکم په وینو ترانه دمیني

***

یمه پښتون په پښتنو جنګېږم
د پښتونخوا په هسکو غرو جنګېږم

کړم به آزاده پښتونخوا زلمیانو
زه د پښتون په تاریخو جنګېږم

زه هم خوشحال هم ابدالي لرمه
دمیرویس خان په دې جرګو جنګېږم

لري غېرت ډیر باهمت زلمي دي
دخان شهید په دې بچو جنګېږم

راځي چي ونیسو دښمن ته لاري
زه دوطن په شازلمو جنګېږم

واي ارماني و پښتنو ته دا
د پښتنو په دې پښتو جنګېږم

***

په زړه کښې زمايو قدردان اوسيږي
د خلګو پټ پکښې جانان اوسيږي

پټ يې ساتم په خپل زړګي کښې مدام
خوا وشا دلته رقيبان اوسيږي

خوشحال په دې يمه هروخت عالمه
په پښتونخوا کښې ښه ځوانان اوسيږي

ځکه ارمان زه دورتلو لرمه
د کلي منځ کښې مي درمان اوسيږي

زه ارماني شومه غمجن ورپسې
له مانه لېرې مي ارمان اوسيږي

***

زه به د ليلا کوڅې ته نه ورځم
بيا د بېوفا کوڅې ته نه ورځم

خبردې که هرڅومره نازپه ما کوي
زه به په خندا کوڅې ته نه روځم

ماته يې خندل په مينه مينه چې
اوس دهغه چا کوڅې ته نه ورځم

نه لري په زړه کښې پښتنه مينه
ځکه په وفا کوڅې ته نه ورځم

نه يم ګيله من له چاسه زه مين
زه که ولاړم بيا کوڅې ته نه ورځم

***

ستاپه مينه ګرانه تومتونه وړم
وګوره جانانه تومتونه وړم

ولي مي په کاڼو راته وګوره
ګرځم پرېشانه تومتونه وړم

تامي دا دزړګی هم رانه واخیستی
ستایم قدردانه تومتونه وړم

سرو وینو کښي رنګ یم له جامو سره
مرم دي له هجرانه تومتونه وړم

لړمي دزړګي په حال خبرشه ته
اې ! دزړه ارمانه تومتونه وړم

پټ پټ له رقیب نه په ها لار راشه
یې د سترګوتوانه تومتونه وړم

کړي به دي سنګسار که په کوڅه راغلې
بیانن رمضانه تومتونه وړم

***

خداي دي له بامه راهیله کړه لیلو
بل دي پر ملاباندي کړېه کړه لیلو

زه چي درځمه ستادیدن ته کله
خداي دي له ماسره مېلمه کړه لیلو

د ښونډو جام دي راکه ته په مینه
ماپه سرکو ښونډو نشه کړه لیلو

د اوښکو قدرمي لږو کړه ګوره
رقیب له ځان سره خفه کړه لیلو

زه به درځمه ستاوخنګ ته لیلا
رب دي له ماسره وېده کړه لیلو

زه ارماني دي تل صفت کومه
ماته د سترګو اشاره کړه لیلو

***

جینۍ منګۍ راډکوي په مینه
دخپل اشنادیدن ته ځي په مینه

اشنایې ناست په نیمه لارکښې وې تل
ورته لاسونه ښوروي په مینه

زړګی زما زخمي زخمي شو خلګو
لیلا چي سترګي توروي په مینه

په مینه یار سره خبري کوي
چي تېروختونه یادوي په مینه

چي نظرنه شي ښایسته ده ډیره
چي سورټیکره په سرکوي په مینه

زه ارماني نشه نشه یم ګوري
ماته جامونه راکوي په مینه

نه په دولت نه په دنیا نازېږم
په خپله خاوره پښتونخوا نازېږم

زوي د پښتون یمه پښتو کومه
دخان شهید په دې وینا نازېږم

چاچي جوړکړل د پښتنو لښکري
د پښتنو په دې شیرشاه نازېږم

تل یې صفت د ننګ غیرت کومه
زه په غیرت د احمد شاه نازېږم

دلوي وطن د جوړېدو په خاطر
تل د میرویس په دې وفا نازېږم

د پاني پت میدان به بیا کړو ورياد
زه د پښتون په هرباچا نازېږم

د خوشحال خان قلم او سپر یادوم
هم د ملنګ په اولستیا نازېږم

که مي هېوا د پښتونستان شو آزاد
بيا به ملګرو په دنيا نازېږم

زه ارماني زوي د هر پښتون ستايم
چي يم افغان زه نو په دا نازېږم

***

زه دي يادونه هېروم جانانه
له دي کوڅې دي تېروم جانانه

د بېوفا د ياراني نه توبه
واي رقيب دځان کوم جانانه

دا بېوفا که وفادار شو بېرته
سربه په ده قربان وم جانانه

يمه ميئن په تا جانانه راشه
اوس دي لا هم مينه کوم جانانه

بار که ارمان په تومتو يم خولا
نازونه ستا په تندي وړم جانانه

ما ارماني که خوک په کاڼو ولي
لاخودي هم مينه کوم جانانه

***

ستا په غم ژاړي دا جهان پښتونه
ګرځم سوری خېري ګريوان پښتونه

زه چي جدا له خپله وطنه شومه
ژړا کوم اوس په سوران پښتونه

ته چي له مانه په ارمان باندي ځي
زه يم په دي تاته آريان پښتونه

پر ېږدی په خپلو کښي جنګونه تاسو
قربان به شم زه په تاګران پښتونه

زه د پښتون په مينه پايم خلګو
پښتو خوده زما ايمان پښتونه

يمه زه نن دانقلاب په تمه
ورک مي شو خپل دزړه درمان پښتونه

يمه ارماني داستا په مينه مست
ګرځمه ځکه سرګردان پښتونه

***

دزړه په کورکښي مي مېلمه ده جنۍ
په ما ميئنه پښتانه ده جنۍ

مدام کوي راته دننګ خبري
دا د غېرت مي نښانه ده جنۍ

ماچي په مينه کښي نږدي وځانته
زما په مينه کښي نشه ده جنۍ

په لاره ځي دا خپل بنګړي ماتوي
وخنګ ته راغله نن غصه ده جنۍ

زه چي ورته ګورمه حيران شمه
وکړمه څه ډيره ښايسته ده جنۍ

زيږ د راتلو لاري څارم په مينه
دا په بل کلی کښی پرته ده جنۍ

زه ارماني يې وديدن ته ورځم
زما دکلی همسايه ده جنۍ

***

ماپه هجران تاپه خوندو کړ تېر
ژوندون مي تاته په ګيلو کړ تېر

چي ته رانه غلي په ماګرانه ته
ماعمر ستاپه اُميدو کړ تېر

په کور او کلي کښې رقيبه چا
دا پېغلتـوب په اند ېښنو کړ تېر

تاچي خرګند کړ د نقاب نه مخ
تاته مي عمر په کتو کړ تېر

جانانه راشه چي دي خپل کړمه
ما دي هجر په سرو لمبو کړ تېر

زه ارماني کړم انتظار د چا
وخت مي د هجر په سلګو کړ تېر

***

تاچي زه وينم په نظر کښې ليلا
اور مي شي بل په دې ځيګر کښې ليلا

زما تر لېمو ويني بهېږي ګوره
راځې چي ته په ما ځيګر کښې ليلا

تاچي تړول هېر کړل قسمونه ګلي
اوس نه راځې ته په چکر کښې ليلا

ولاړې د نور وشوې زما وطنه
مړشمه زه په دې خبر کښې ليلا

ته چي د بل شوې قدرداني زما
اور شولو بل په ما ګودر کښې ليلا

شوې د ارماني نه چي جلا ګلي
خوار وزار ګرځي لراوبر کښې ليلا

***

دا پښتونخوا د پښتنو خاوره ده
خوند کوي دا د مېړانو خاوره ده

دا د خېبر په هسکو غرو مي قسم
دا د سر تېرو توريالو خاوره ده

هروخت به ستايم ننګيالي پښتانه
دا مي د ښکلو ننګيالو خاوره ده

دلته خوښکلي پښتانه او سپېږي
دا د جرګو او مرکو خاوره ده

ورک به له وطنه ظالمان کړو ټول
دامو د ننګ او د پښتو خاوره ده

اغيار به نه پرېږدو په دغه خاوره
ځکه چي دا د ښازلمو خاوره ده

زه ارماني په وطن سرو کوم
زما د پلار او د نيکو خاوره ده

***

کورپه کورغمونه دي وچا ته خندا وکړمه
هرخوا ته جنګونه دی وچا ته خندا وکړمه

اورونه دي لمبې دي پښتانه پکښي سوځېږي
ځومره ډير اورنه دي وچا ته خندا وکړمه

ځوک په کابل ځوک په واښاکښي چي خپل ورونه وژني
جوړ راته قبرونه دي وچا ته خندا وکړمه

انګريزان دي که توران دوي بدل له موږه اخلي
وران زموږ کورونه دي وچا ته خندا وکړمه

دا جوړه دسيسه ده د پخوانه و افغان ته
جوړ راته چلونه دي وچا ته خندا وکړمه

که هرځو وهم بوغاري دا قام زما وېده دی
غلام د ټولو زړونه دي وچا ته خندا وکړمه

راوېښ که دا وېده پښتانه خپله ارماني ته
ورک چي يې فکرونه دي وچا ته خندا وکړمه

***

دا ستاله کوره چي وتم ژړېدم
له سترګو ستا پناه کېدم ژړېدم

په لاره تلم شاته خو ما کتلې
زه چي لتا رخصتېدم ژړېدم

په اورکښي وسمه لمبه لمبه شوم
د وړور و قبر ته ورتلم ژړېدم

هغه ستاعت په ما قيامت وو خلګو
چي له وطنه بارېدم ژړېدم

دې ګاونډيانو در پېدره کړمه
چې و درګاه ته درېدم ژړېدم

ما تنګ نظر او ترهګر چي بولي
په نوي نوم چي نومېدم ژړېدم

ته چي دبل شوې په ماګرانه ياره
زه دي له ښنګه تېرېدم ژړېدم

زه ارماني درته هم دومره وايم
په ښنګ کښي ستا چي اوسېدم ژړېدم

***

ستا د سترګو جنګ د کاره وايستم
زه د بنګړو شړنګ د کاره وايستم

هسي بې ننګه خو زه نه وم ګلي
ستا د شونډو رنګ د کاره وايستم

زلميانو وکړی لږ همت په وطن
زه خو يو ملنګ د کاره وايستم

جانانه پرېږده د اغياره خويونه
ناستي ستا په ښنګ د کاره وايستم

په شونډو رنګ په تندي خال مزه کړی
ستا دې تور لونګ د کاره وایستم

زه ارماني خو په هرڅه پوهېږم
دبې ننګه ننګ د کاره وایستم

***

مادرته کړې ده قیصه دمیني
نه مې هېرېږي زمانه دمیني

زه چې به روان ومه په تاپسې
اوس مې ژوندون شو افسانه دمیني

رنګ شو زما و ستا هغه کورونه
اوس به زه ځم په وېرانه دمیني

زما لتاسره قسم دی قسم
هېره به نکړمه مزه دمیني

ماچې په مینه وه درکړې تاله
ورکه لتانه شوه تحفه دمیني

خیري ګریوان به ورپسې ګرځېدم
زه وم په مینه دیوانه دمیني

ورکړه قرار دارماني وزړه ته
رمضانه اوره ترانه دمیني

***

ستاله ښاره ولاړمه بیا نه راځم
ستاپه دې کوڅه به لیلا نه راځم

ستا یاد مې له دغه زړګی وایستی
بیابه کله زه په ژړا نه راځم

تېربه کړمه عمرپه هجران کښې زه
ستا و دې وطن ته اشنا نه راځم

ستا دیدار چي زه کوم جانانه زما
ستا دیدن ته بیا په خندا نه راځم

ګرانه درنه څمه په ارمان ارمان
یاره بېوفایي والله نه راځم

ځو مره بېوفادی ارماني ژوندون
دې کوڅې ته دلته په دا نه راځم
***
دبراته یادېږي ګرانه څه وکړم
نه رانه هېرېږي ګرانه څه وکړم

ته په څه خفه یې اې زما اشنا
مانه جدا کېږې ګرانه څه وکړم

اوس خوپوه شه ته په ځان افغانه اوس
خپلو کښې جنګېږي ګرانه څه وکړم

زه په تمه ستا یمه جانانه زما
نه چي رارسېږې ګرانه څه وکړم

ته ولي له مانه ځې اشنا زما
ماته به یادېږې ګرانه څه وکړم

خاوره مې خرڅېږي په پېسو ګوره
خود به پردې کېږي ګرانه څه وکړم

ته ارماني وګوره پښتون ته نن
چي خپله هلاکېږي ګرانه څه وکړم
***
لا ساده ګڼان دي نه پوهېږي ګوری
پښتانه خپلو کښې جنګېږي ګوری

ځوک د ملا ځوک د طالب په نامه
د بل په خوله چي هلاکېږي ګوری

هرڅوک ورباندي خاندي چي داڅه کړي
چي د هر چا ورابانبي کېږي ګوری

ترڅو چي خپله خاوره خپله نکړي
په نوم دبل به دوي يادېږي ګوری

راځي چي پرې کړو دغه ټولي کرښي
ټوله پښتون سره يو کېږي ګوری

هروخت دقام په غم غمجن وي داسي
دا ارماني مي نه هېرېږي ګوری

***

ستا به رقيب سره واده وي زه به مړيم ګلي
ستا په مړوند به بل وېده وي زه به مړيم ګلي

تاڅنګه پرېښوم يو اځي دبل چاشوې ګراني
ستا به هېڅ خيال راباندي نه وي زه به مړيم ګلي

ته به مي هېر کړې چي لتانه ليري ولاړمه زه
دبل سره به دي ژوندښه وي زه به مړيم ګلي

ستا د واده په ورځ مي باسي جنازه دګلي
ستا به لاسونه دواړه سره وي زه به مړيم ګلي

ما ارماني به دا پرېدي خلک دځان کړی ګلي
بيابه دغه وختونه نه وي زه به مړيم ګلي

***

ګناه مي څه ده چي نن ماپه کاڼو ولې
ګوره ښايستي چي خپل اشناپه کاڼو ولې

دامي ګناه شوه چي مېئن شومه په تازه
دامي خطاشوه ته مي بياپه کاڼو ولې

داستاپه مينه کښي زه تېرترسرومال وم
دامي وفاوه ته هم داپه کاڼو ولې

هغه لوظونه راپه یادکړه دوفا دي
ناترسي ته خپله وفا په کاڼو ولې

وکړه لږفکرچي وطن دي دخپل ځان دی
ارماني ولي پښتونخوا په کاڼو ولې

***

ځومره خواږه ځومره ترخه یادونه
زماپه زړه کښې دي پراته یادونه

جانانه څه ورځه په مخ دي ښه شه
لامي په یاد دی هغه ښه یادونه

محبوبي راشه چي دي وکړم دیدن
نه مي هېرېږي ستا خواږه یادونه

راکول تاچي به په مینه ماته
پراته زمادي لا په زړه یادونه

تاچي به خواری کړل تور زلفان په ما
نه هېروم د زنګانه یادونه

اوس دي هجران دی زه هروخت ژړېږم
ځنګه کړم هېر د ښیلتانه یادونه

زه ارماني وتاته وایم اشنا
ستابه دریادکړمه ډېر څه یادونه

***

نن چي پرماپرون په تا تېره شوه
دغه ځواني خو په هرچا تېره شوه

پرېږدی چي وژاړم په چیغو چیغو
زماپه ځنګ چي ښېوفا تېره شوه

بې له نصحیته بل کارنه لري
مخکښې مستي لا په بابا تېره شوه

د بېوفا خبري مه کوی نو
ليلا په مينه په وفا تېره شوه

دچاپې خوب دچاپې خندا يووړه
هغه چي دلته په خندا تېره شوه

په زوره ژاړم ارماني شاعره
پته له مانه اوس په غلا تېره شوه

***

ګرځم سوری شيري ګريوان وطنه
په تاخفه دی هرافغان وطنه

ترڅو به ته داسي غلام يې ګوره
ژړاکومه پرموړګران وطنه

ته پښتونخوا د ننګيالو هېواد يې
په تا قربان شو صمدخان وطنه

که دامغل که انګريزان وو ګوره
لتانه تللي دي په زيان وطنه

دلته خندا له سره نوم نه لري
ژاړي خېبرا و دا بولان وطنه

ته خو زانګو د باچاخان يې ګرانه
په تاجنګېږي هر يوځوان وطنه

په تابه پرې کړو د هر چا سرونه
داحمدشاه اوميرويس خان وطنه

هرڅوک لتانه دا خپله ګټه وړي
لوټ کړي اغيار ډير په راماں وطنه

خپل درياخان او ايمل خان وګوره
وو ننګيالی ستا خوشحال خان وطنه

زه ارماني په خپل هېواد جنگېږم
ساتم تاريخ د فريد خان وطنه

***

زه دي يم اشنا گوره چي ستاله ښاره ووتم
نه يم بېوفا گوره چي ستاله ښاره ووتم

څوک مي د زخمي زړگي تپوس په مينه نه کوي
تل يم په ژړا گوره چي ستاله ښاره ووتم

ستا په تومت چي خلک ما په کاڼو ولي ياره
زه شومه رسوا گوره چي ستاله ښاره ووتم

تاچي زماله ياري واخيستل لاسونه کله
ولاړمه زه بيا گوره چي ستاله ښاره ووتم

هيڅ گيله به نکړمه له چاسره په مينه کښي
ته وې په خندا گوره چي ستاله ښاره ووتم

تاچي و رقيب ته خپل جوړه ورکړل لاسونه نن
مرم به خامخا گوره چي ستاله ښاره ووتم

پوه يمه په دې بې د هجرانه بل څه نشته اوس
گرځمه تنها گوره چي ستاله ښاره ووتم

ياره ارماني شاعره نه کړمه گيله له تا
يم په دې رضا گوره چي ستاله ښاره ووتم

***

دې پښتونخوا کښي شازلمي پراته دي
دلته کاکړ او اڅکزي پراته دي

راځي چي ولاړ شو د سيوی په لوري
هلته خجک او ډېر لوڼي پراته دي

دغه وزير او مسعود تل نازېږي
د دوي په څنگ کشي آپرېدي پراته دي

د کوټه ښار کښې پښتانه اوسېږي
دلته برېخي او کاسي پراته دي

ګوری زلميانو چيرته هېر يې نه کړې
په ښکلي سوات کښې يوسفزي پراته دي

راځي چي ولاړ شو د اټک و خواته
په ميانوالی کښې مو نيازي پراته دي

د پېښور سيمي ته ولاړ شي ګوري
چيري هوتي او محمدزي پراته دي

د خټک ننګ او ډير غيرت يادوم
په سراي کوټ کښې مشواڼي پراته دي

که مومومند که مو بنګش دي ګوری
ښکلي سيدان او اسحاق زي پراته دي

هم دا ترين او ناصران يادوم
زموږ په غرو کښې چي زمري پراته دي

دا چي نورزي او موساخيل دي خلګو
بل خوا خلجي او دراني پراته دي

زه ارماني خو مشواڼي يم ګوري
دا مشواڼي په پنجپاي پراته دي

***

ستا په انتظار کښې ليونی شومه
زه په دغه لار کښې ليونی شومه

دومره ډير ظلمونه په مامه کوه
ياره په بهار کښې ليونی شومه

وم دا انقلاب په تمه تمه زه
زه په دې غبار کښې ليونی شومه

وکړه ته یقین زما په مینه هم
هجره ! په انګار کښې لیونی شومه

زه کوم په مینه انتظار دا ستا
ستا په اعتبار کښې لیونی شومه

ولاړم ارماني په تمه تمه زه
وګوری په دار کښې لیونی شومه
***
جانانه مینه پرېږده مینه نشته
دلته د میني اوس وختونه نشته

دلته د ښکلو کمی نشته خدایه
د ښو یارانو لا قدرونه نشته

ستا د وطن سپرلی به څه کوم
زما وطن کښې چې ګلونه نشته

ژړبه شم ولاړله دې فاني دنیانه
نشته اوس هغه دیدنونه نشته

جانانه څله اوس ژړا کوې ته
ستا د دې اوښکو قیمتونه نشته
***
ستا دلېدو ارمان په زړه کښې لرم
د شونډو سرو ارمان په زړه کښې لرم

تللی جانان مي مسافر دی رانه
زې دراتلو ارمان په زړه کښې لرم

خلګو ورته ګوری بې پښتو شو یار
زې د پښتو ارمان په زړه کښې لرم

خداې دې یو ځاې کړی لراوبر پښتانه
زه د جرګو ارمان په زړه کښې لرم

بيا چي شي راغونډ په يو مرکز زلمي
د شازلمو ارمان په زړه کښې لرم

کله به ماکړی څوک لږ ښکل په مينه
د ښايستو ارمان په زړه کښې لرم

زه ارماني به کړم راټول پښتانه
د پښتنو ارمان په زړه کښې لرم

***

حال به مي څوک يوسي ترياره پوري
ورپسې ژاړم ترسهاره پوري

نشته قرارمي بې دياره خلګو
اوس نومايوسي ترنګاره پوري

يوځل خوراشه ستادغمه ژاړم
ژړامي ولاړه تربل ښاره پوري

ديارپه مينه تومتي شوم خلګو
خبرشوټوله تراغياره پوري

په سترګوړوندورپسې زه يم ګوری
څوک به مي بياي تردلداره پوري

څېري ګريوان يې په کوڅه کښې ناست يم
حال مي څوک نه وړي ترغمخواره پوري

کلی به تاته ارماني پرېږدمه
ځکه خوځمه تربل ښاره پوري

***

دغه سپين مخ د پټولو نه دی
جانان زما د هېرولو نه دی

چي کله ستا ومخته وګورمه
بيا دبل مخ مي د لېدلو نه دی

زه د هجران دلاسه سوځم په اور
لا دغه اور د مړولو نه دی

چي راته نه ګوري مي يار په مينه
دغه خپل يار مي د ستايلو نه دی

جانانه راشه يم رنځور درپسې
نورمي زړګی د صبرولو نه دی

دزړګی حال به کړم بيان وچاته
دزړګی حال مي دويلو نه دی

دا ارماني جانان مي څه شو خلګو
دا بېوفا د يادولو نه دی

***

دسترګو جنګ راسره وکړه يوځل
خوب په پلنګ راسره وکړه يوځل

لاس مي په لاس کښېږدې ونيسه په مينه
په بنګړو شرنګ راسره وکړه يوځل

راشی چي جوړ کړو خپل هېواد په خپله
په هېواد ننګ راسره وکړه يوځل

غمونه پرېږده په ما ګراني ليلو
ناسته په خنګ راسره وکړه يوځل

توره مي خوښه بنګړي څه کومه
په توره شرنګ راسره وکړه يوځل

پرېږده ارماني چي نن ژړا کوي
مينه په ننګ راسره وکړه يوځل

***

پرېږده چي ژاړم په ژړا تېرېږم
ستاپه کوڅې چي بېوفا تېرېږم

پرېږدې چي مي وخوري نن په دښت ليوان
ځکه چي زه خو په صحرا تېرېږم

شمه لېوا له ستا لېدو ته ګلي
د کور په خوا چي کله ستا تېرېږم

ته چي له مانه شوې خفه جانانه
اوس دي په کلي خامخا تېرېږم

د بل وطن په لورې نه ځم کله
په خپل وطن د پښتونخوا تېرېږم

وېښ به کړم له خوبه دا ويده اولس
عظم فولادي لرم بيا تېرېږم

غواړم خپلواکي زه ارماني د قام
څه کړمه تازه خولتا تېرېږم

❋❋❋

مورېيو پښتانه چي د پښتو سندري وايو
نه يو غلامان چي د پرېدو سندري وايو

د چادمال او د دولت پسې خونه ځو مورږ
ټول يو پښتانه د پښتنو سندري وايو

انګريزمو له وطنه شړلی ډير پخوا دی
اوس کله د رنجيت د بچو سندري وايو

مورږ خود وطن په ننګ سرونه دي شېندلي خپل
خود به د وطن د خپلېدو سندري وايو

چي واک د پښتنو وو پښتانه به نازېدل
څنګه د پښتون د غلامېدو سندري وايو

زه ارماني به کړم راټول دا لروبر زلمي
بيا به د يو بل د خپلېدو سندري وايو

❋❋❋

قدم به ستا پر قدم رږدم پرمخ به ځم
هر څه به دلته زه پریږدم پرمخ به ځم

نه کړم د چامینه نه پر چا میئن یم
سر په وطن قربان وم پرمخ به ځم

هر مېدان مو دی ګټلی په خپل وینو
اغیار به دلته ښکېلوم پرمخ به ځم

چي ختمه دښمني د ورور او ورور شي اوس
دا لراوبر به یو کوم پرمخ به ځم

د پاني پت مېدان به بیا کړمه وریاد
سرونه دلته پرې کوم پرمخ به ځم

باچاخان او صمد خان مو ننګیالي وو
زه خوشحال خان رایادوم پرمخ به ځم

که څوک سرکړی رانه پرې کرار به نه شم
ټول پښتون به یو کوم پرمخ به ځم

راځي چي وکړو دایوب غوندي غزا
هم ملالۍ به یادوم پرمخ به ځم

نه شم کولاي غلامي د چا نوره
دا پښتونخوا به زه ګټم پرمخ به ځم

زه چي کړم آزاد دا خپل وطن ارماني
بیا به د یار مینه کوم پرمخ به ځم

***

جانانه ستا په زړه کښي څه پراته دي
دا ستاغمونه مي په زړه پراته دي

هر څوک یې لوټ کړی ددوستۍ په نامه
لاورته ګوري ټول وېده پراته دي

جانانه بس که نوره مینه پرېږده
یادونه ستا مي لا خوارېږه پراته دي

نه په ژوندی اونه په مړودي شمار
دا پښتانه چي لا ویده پراته دي

هغه د میني تږول وختونه شو تېر
دا ستا یادونه لا ډیر ښه پراته دي

اغیاره ګوره چي رانه شي دلته
دلته خو تږوله پښتانه پراته دي

د ګودر خواته چي راتلې په مینه
د خولي خوارېږه دي لا په خوله پراته دي

زه ارماني د پښتونخوا په مینه
لیکم شعرونه چي ډیر ښه پراته دي

***

سترګي دي توري ښې نری کړه
منګی په سر بیا شین خالی کړه

دیدن ته راشه چي میئن یم
خداي دي په خنګ زما کوچی کړه

زه چي درځمه ستا کوخې ته
مخ راښکاره دي له کړکی کړه

په خپل تندي خالونه کښېږده
ځان دي ښایسته لکه سپوږمی کړه

څېري ګریوان چي درپسې یم
رب دي له ماسه لیونی کړه

دا ستا په تمه ارماني یم
نظر زما په ښې ځوانی کړه

***

وينمه نن بيا په وينو سره لاسونه
زه د خپل اشنا په وينو سره لاسونه

لاس که زما نن وتاته نه رسيږي
بيا به کړمه ستا په وينو سره لاسونه

خود به ځي اشنا د بل په خوا په مينه
کړل چي يې زما په وينو سره لاسونه

زه به شم خوشحاله هغه وخت رقيبه
کړم چي زه دا ستا په وينو سره لاسونه

زه به کړم راټول دا لراوبر پښتانه
کړم چي د بل چا په وينو سره لاسونه

زه يمه پښتون په دې منکر خو نه يم
دی چي مي نن ستا په وينو سره لاسونه

په څه به دې خبر زه ارماني واخلم
ستا چي دي زما په وينو سره لاسونه

***

داوښکو تصور کښې تصويرونه جوړوم
له ځانه سره اخته يم تدبيرونه جوړوم

په کومه لاره ولاړ شم وران شوی مي وطن دی
خالي مي دي لاسونه وران کورونه جوړوم

سياله به پښتو کړمه دا هوډ خو دی ما کړی
زما ټوپک په لاس کښې وطنونه جوړوم

جوړه پښتونخوا به کړم وايم ارماني داسي
د خان شهيد بچی يم ښه فکرونه جوړوم

***

ظالم رقيب دی ګرانه ما په کاڼو مه وله
د خلګو منځ کښې خپل اشنا په کاڼو مه وله

زه دا ستا په مینه کښې تېر تر سرو مال یمه
ماسره جوړه پښتونخوا په کاڼو مه وله

یمه پښتون لیلا به ورنکړمه چاته زه
ګوره غمازه دا لیلا په کاڼو مه وله

ولاړ به شي فنا به شي سر به چاته ټیټ نکړي
ښکلی بچي د احمد شاه په کاڼو مه وله

بیا د کومي موربچی شو مړ په دغه لاره
بل د ښکلي خور یو لالا په کاڼو مه وله

په مینه او په ننګ کښې یم غښتلی تر چا
دا زما وطن دی اوس دا په کاڼو مه وله

یمه میئن د خپل اشنا و څنګ ته نه ورځم
ستا یم ارماني ته شیرشاه په کاڼو مه وله

***

ستا په غم ژاړي دا جهان شهیده
د پښتنو خان صمد خان شهیده

دا ستا کاروان به موړ پر مخه بیا یو
ځکه چي ته یې پر موړ ګران شهیده

زوي د پښتون یمه پښتو کومه
په نوم به ستا کړم سر قربان شهیده

دا ستا ارمان به شي پوره اوس ګوره
ستا وو ارمان پښتونستان شهیده

که سر په دار د آزادۍ په لار شم
پروا یې نه کړم په ایمان شهیده

د خپل وطن په مینه سرور کوم
زه به پرې نه ږدم ستا کاروان شهیده

زه ارماني دا ستا په ننګ نازېږم
دا ستا په پت يمه قربان شهيده

***

وژني اشنا مي د پرېدو په ژبه
چي کړي خبري د پښتو په ژبه

نن وي دا ستا سبا د بل په څنګ کښي
نشته باور د ليونو په ژبه

تا به د ځان کړ مه جانانه زما
کوم اقرار د پښتنو په ژبه

نه راځي پوښتني ته مي يار زما
رقيب مي وژني د چړو په ژبه

يو ځل اقرار او بل ځل انکار کوي
زه خو پوه نه شم د هغو په ژبه

ځم د راماني سره په مينه زه
بيا به يې وژنم د پېسو په ژبه

***

ګرځې پرېشانه څه کوې
نه راځې جانانه څه کوې

هجران دي دا سي ليونی کړم
ورک يمه له ځانه څه کوې

وژني خپل وروڼه ته په خپله
اې پښتون افغانه څه کوې

دا ستا په غم کښي زه ژړېږم
مرم دي له خفګانه څه کوې

د وطن غرونه مي د بل شو
وکړه همت ځوانه څه کوې

موږ چې آزاده پښتونخوا کړو
بیا رانه شي خانه څه کوې

څه دې پښتو څه دې قسم شو
ارماني رمضانه څه کوې

***

ښکلې پښتونخوا ته شازلمي راځي
کور د احمدشاه ته ننګیالي راځي

بیاله آمونه تر اټکه پوري
دې زموږ وطن ته توریالي راځي

په دې هېواد کښې ننګیالي او سپړي
دلته سربازان او جنګیالي راځي

بیا د خان شهید او باچاخان په شان
دلته د ایمل درانه بچې راځي

کور د پښتنو دې چې ویجاړ نه شي
هر زلمی مو دلته ښه غازي راځي

دا د فرید خان دریا محمود لښکر
تل دې وي ژوندي پکښې زمري راځي

کله پرېږدمه خاینان په وطن
وایم ارماني اوس خپلواکي راځي

***

څومره يې له خېښمه په لاسو کښې بنګړي مات کړې
هغې ښایستې چې په کوڅو کښې بنګړي مات کړې

ماسره روانه وه په سیل باندې عالمه
وي کتل صحراته په دښتو کښې بنګړي مات کړې

نه شوم خبر څنګه خفه شوله له ما لیلا
ناسته وه په څنګ کښې په حملو کښې بنګړي مات کړې

په غم اخته شوه چي مي بار شوه له کلي کډه
دې له ډېره غمه په سوچو کښې بنګړي مات کړي

زه چي به ورتلم په نيمه شپه ديدن ته خلګو
ډيربه يې خندل په نيمو شپو کښې بنګړي مات کړي

څنګه رانه ولاړه شوه د بل هغه په مينه
ما ارماني يې هم په خوبو کښې بنګړي مات کړي
***
ورک رانه جانان دی په دې کلي کښې
څيري مي ګريوان دی په دې کلي کښې

په اوښکو لوند ګريوان مي ګوره ياره
پاته مي ارمان دی په دې کلي کښې

څه کوم پرېدی وطن مي بد ايسي
پروت چي مي افغان دی په دې کلي کښې

سر مي دی قربان د خپل وطن په نوم
کور د صمد خان دی په دې کلي کښې

رقيبه پام چي بيا راونه ګورې
ناست د سترګو توان دی په دې کلي کښې

چي يې له ننګه ټول جهان خبر وو
نوم د خوشحال خان دی په دې کلي کښې

ورځمه زه مدام په مينه مينه
دلته زما ګران دی په دې کلي کښې

اغياره ګوره چي رانه شې دلته
ښخ مي باچا خان دی په دې کلي کښې

هم مي ايمل هم دريا خان دی دلته
ښکلې ميرويس خان دی په دې کلي کښې

يمه ارماني د ستاله میني جار
اوردي د هجران دی په دې کلي کښې

***

شنه خالونه مه ږده په تندي باندې
مابه لیونی کړې په څواني باندې

بیایې منګی واخیستی روانه شوه
سره لاسونه ایښې په منګي باندې

خال ته یې دزني زه حیران یمه
وې ایستم له ژونده په یاري باندې

وخت د سپرلی دی خو یار نشته زما
زې کړم درپه دره په سپرلي باندې

بیا ارماني ستا د غم خبري دي
یار که پیدا ځان ته په سیالي باندې

***

راکه لیلا ماته جامونه راکه
ما ته سرو شونډو سرونه راکه

له ډیره وخته انتظار یم دا ستا
ګراني وما ته دیدنونه راکه

زما وطن دا سې خزان دی ګوره
یو څو د خپل وطن ګلونه راکه

چې ناقراره زړه زما شي قرار
لږ دې په مینه سره لاسونه راکه

چې یادوې دې هر سات په مینه
زما په زړه باندې داغونه راکه

دا ستاله میني مې زړه نه صبرېږي
ماته په مینه سره ګلونه راکه

زه ارماني چي ستا ديدن ته درځم
پټ دي وماته خپل عکسونه راکه

***

پښتنو پورته شی خوبونه پرېږدی
هغه زاړه زاړه سوچونه پرېږدی

اوس خو هغه ټوله وختونه تېر شو
پښتنو ګوری تېر وختونه پرېږدی

راځي چي جوړ کړو خپل وطن په خپله
دبل درګاته ډېر سوالونه پرېږدی

مه کوی خپلو کښي جنګونه تا سو
بس دئ په خپلو کښي جنګونه پرېږدی

درځي چي يو د لوي افغان په نوم شو
دبل وطن پرېدي ګلونه پرېږدی

راځي چي ځو د خپلو اکی په لاره
پرېږدی د پېغلو ديدنونه پرېږدی

کړمه صفت دخپل وطن ارماني
چي بل ته ټېټ شي ها سرونه پرېږدی

***

ساقي چي مات درنه دميني دا جامونه نه شي
د مېخوارانو زړوته پښېښ بيا تکليفونه نه شي

په ډېر ارمان درځي دا ستاد مېخاني په لوري
دچا په زړه کښي چي نور پاته ارمانونه نه شي

ساقي ورډکي که پيالې په مينه مينه ورته
لږ پام کوه چي ترينه ورک زاړه خيالونه نه شي

درنځ دواده مېخانه ساقي درځم په مينه
په زړه مي پاته نور د هجر سره اورونه نه شي

ساقي راځه چي دغه شپه کړو تر سهاره تېره
نور چي مي پاته په زخمي زړګي غمونه نه شي

زه ارماني به تل درځم داستا وخوا ته ساقي
زما مرهم شه چي مي پاته دا زخمونه نه شي
***
زمونږ کوڅې په ليونو ډکي دي
دا په سرتېرو ننګيالو ډکي دي

ورځمه زه ايثار به نه شم خلګو
که ټولي لاري په ازغو ډکي دي

پښتنو پرېږدی د پرېدو خبري
ددوي خبري له دهوکو ډکي دي

ميئنه پام کړه چي زخمي دي نه کړي
لاري کوڅې د ښايستو ډکي دي

غلېمه ګوره چي رانه شې دلته
دلته کوڅې د شازلمو ډکي دي

ورخطانه شې ارماني شاعره
زمونږ حجرې د توريالو ډکي دي
***
څه ښکلي وختونه ياره تېرشولو
ستا ښايسته يادونه ياره تېرشولو

تاويل چي سرمي دی په تا قربان
تاکړی لوظونه ياره تېرشولو

ته به ماله زه به درتلم تالره
هغه ديدنونه ياره تېرشولو

وم چي په تمه د راتلو دا ستا
ستا انتظارونه ياره تېرشولو

زه چي وم بدنام بدنام په تا باندي
هغه تومتونه یاره تېرشولو

وو چي ارماني په چا میئن اشنا
بیا هغه مخونه یاره تېرشولو

***

یو مومرام یومو ارمان دی ګوری
یو مووطن یومو ایمان دی ګوری

دا خپلواکي د پښتونخوا چي غواړي
دا خو لمسی د میرویس خان دی ګوری

سرېي په لاس کښبي دی هروخت نېولی
دغه بچی د صمد خان دی ګوری

د پښتون قام په ننګ غېرت میئن یم
دا تېره توره مي ننبان دی ګوری

بیا یې غزنوي ایمل خوشحال کړو یاد
په کاروان کښبي راروان دی ګوری

د غېرت توره یې نېولې لاس کښبي
دغه رهبر خان محمود خان دی ګوری

خوار ارماني به یې ستایم په مینه
راباندي ګران ټوله افغان دی ګوری

***

یمه پښتون په پښتنو میئن یم
زه په غېرت د شازلمو میئن یم

چاته چي ټېټ نه شي هیڅکله ګوری
زه بیا په داسي ننګیالو میئن یم

غواړم چي تل دغسي هسکي وي دا
د پښتنو په دې شملو میئن یم

راشي اې ورونو سره یو شو ټوله
پرېږدی نفاق په توریالو میئن یم

بیا به شو راغونډ په یو مرکز ټوله
دا مې باور دی په جرګو میئن یم

هېر به مې نه شي احمدشاه او میرویس
زه د پښتون په تاریخو میئن یم

څنګه مو پرې اېښې دا پښتو ده نن
خواره به نه شي په پښتو میئن یم

غواړم ارماني چې آزادي راوړم
د پښتونخوا په دې کوڅو میئن یم

***

له سترګو اوښکې توېوم په مینه
چې بېوفا رایادوم په مینه

له مانه ولاړې د بل چا شوې لیلا
په تا پسې ژړا کوم په مینه

ترڅو به ته له مانه لېرې ګرځې
تابه په مینه خپلوم په مینه

دا ستا پېزوان او شنه خالونه ګلي
زې په شعروکې خپل ستایم په مینه

زه ارماني په تا میئن یم ګوره
اوس دی لاهم مینه کوم په مینه

***

په سترګو سرو مې ژړوې ظالم دی
یار چې زما ده نه مني ظالم دی

دهوکه یې زه کړمه په مینه خلګو
زړه کښې یې د بل مینه ساتي ظالم دی

د رقیبانو صفت تل کوینه
بل خو هروخت رقیب ستاي ظالم دی

خو مره نا ترسه دی اې خلګو اشنا
پټ چي له مارقیب سه ځي ظالم دی

په ځنګ زما فکر د بل کوینه
چي د هر چا یاري کوي ظالم دی

دې ارماني ته یم حیران زه خلګو
ځنګه کوي دا شاعري ظالم دی

***

زه دي جانان او ته مي ځان یې ګوره
تر هر چاته را باندي ګران یې ګوره

قسم دی ستا په مینه سر ورکوم
ته مي د سوي زړه ارمان یې ګوره

دا ستا چوپړ به زه کوم په مینه
ته مي هېوا د لوي افغان یې ګوره

نشته قرار مي بې لتا نه یاره
ته مي د دواړو سترګو توان یې ګوره

قربان لتانه به هرڅه کړم ګرانه
لتانه زارشم قدردان یې ګوره

زه ارماني دي یادوم په مینه
ته د زخمي زړګي درمان یې ګوره

***

دا ستا د میني شوم ملنګ محبوبې
غواړم د شنو سترګو دي جنګ محبوبې

د وخت مغل ته به سر ټیټې نه شم
خوښوم زه د تورو شړنګ محبوبې

غوارمه خولګۍ دي چي نشه شمه
خوند کوي ستا د شونډو رنګ محبوبي

خونبن د هېواد په مینه مړنبه یمه
کومه زه په وطن ننګ محبوبي

نه مي هېرېږي احمد شاه ومیرویس
یادوم زه د خوشحال ننګ محبوبي

ستا ارماني یم راته وګوره لږ
د زړه مي لیرى که نن زنګ محبوبي

***

داستاپه زنه چي خالونه ډیر دي
دومره په زړه کښي مي دردونه ډیر دي

نه وي د شپې او نه د ورځي قرار
څومره په زړه زما زخمونه ډیر دي

خداي به آزاده پښتونخوا کړي زموږ
دلته د نور پېغورونه ډیر دي

زه انتظار ستا د راتلو کومه
ستا د لیدو مي ارمانونه ډیر دي

مخ که څرګنده چي دي ووینمه
لامي په ژوند کښي نور غمونه ډیر دي

راځه چي وکړو په اخلاص یارانه
دپاکي میني تومتونه ډیر دی

زه ارماني میئن په تایم ګوره
زما لتاسه اُمیدونه ډیر دي

***

خوږلی زه یمه ښامار د سترګو
رنځور ګرځېږمه بېمار د سترګو

سترګي مي ستا په لور کږې دي ګوره
کومه زه ستا انتظار د سترګو

زلفي دي بيا په مخ سمسوري کړلې
کوې و چاته نن سينګار د سترګو

ميئن دي زه کړمه په ځان محبوبي
ولي کوې اوس ته انکار د سترګو

تاچي په مينه راکتـل شيريني
مخ اړوې اوس په تلوار د سترګو

کله په مينه چي را وګورې ته
پو شمه زه ستاپه اقرار د سترګو

يم ارماني دي د راتلو په تمه
کوم به ستا ګراني ديدار د سترګو

***

پورته چي په ناز راته لاسونه کړی
ورک رانه د ټول عمر غمونه کړی

شمه خوشحاله هغه وخت ملګرو
بل چي په رقيب باندي اورونه کړی

وچي شي جرګې د پښتنو دلته
لنډ د خپلواکي به منزلونه کړی

شم به تازه زه د ګلاب په شان
ډک راته په مينه چي جامونه کړی

بيابه شم ماشوم زه د پخوا په شان
راچي دا په مينه ديدنونه کړی

ورک به شم له ځانه ليونی به شم
را چي خپل د سرو شونډو سرونه کړی

وايم ارماني د يار ديدن كوم
كتار چي په مخ باندي خالونه كړي

***

په جداي كښې د جانان سوځېږم
خلكو په اور زه د هجران سوځېږم

رانه خفه شو ټول ياران د ميني
زه چي په غم كښې د خپل ځان سوځېږم

دا ستا په لوري چي درځم په مينه
كه وي باران زه په باران سوځېږم

د رقيب خوا كښې چي تا ووينمه
بيا نو په اور د هر زمان سوځېږم

زه ارماني خوشحال په دې يم خلكو
په شان چي زه د خپل ارمان سوځېږم

***

تا چي د ميني تېر وختونه هېر كړل
ما خو د استا كړي لوظونه هېر كړل

ځومره خوارېږو وو سپين لبان دا ستا نو
ټول مي دميني ستا خوندونه هېر كړل

هر وخت چي مورږ كول په مينه دوارو
تا چي هغه خپل مجلسونه هېر كړل

اوس دي يارانه ځنګه دريا ده كړم
ما دي د سرو شونډو جامونه هېر كړل

محبوبي چيري له ما ليري ولاړې
تاخو ببخي هغه قسمونه هېر كړل

تا خو پرون راته خندل په مينه
نن دي زما ښكلي يادونه هېر كړل

شم به ارماني په څه خوشحاله زه
تا چي زما ټوله شعرونه هېر کړل

***

ستا د یادونو سلسلې دي پاته
په زړه کښي زما هغه قیصې دي پاته

تاچي له ما سره اشنا کولې
پر خولې مي ستا د خولې وعدې دي پاته

هرڅوک خبرو چي میئن وم پر تا
لا مي د میني افسانې دي پاته

راشه چي خپل دي کړم یوځل په مینه
لا ستا د سرو شونډو نشې دي پاته

قدم به کله زما په خوا را واخلې
دنه راتلو دي لاڅو شپې دي پاته

چي زه دي ښکل کړمه لبان په مینه
محبوبي راشه چي ګیلې دي پاته

دا چي لیکلي دي په مینه مورې ته
د ارماني دا ترانې دي پاته

***

رقیب مي پښوته زولنې جوړوي
لیلا مي دیدته اوس پلمې جوړوي

د یار دیدن ته څنګه لاړ شمه زه
یار مي وماته اند ېښنې جوړوي

جانان ته مه راوړه جامونه ساقي
جانان به چیرته مېخانې جوړوي

دومره ظلمونه په اشنا چي کوي
و خپل اشنا ته قیدخانې جوړوي

ورک ارماني شو د خپل یار په غم کښې
اوس یې له غمه ترانې جوړوي

❋❋❋

ټول عمر ما سره جفا مه کوه
ته مې له غم سره سودا مه کوه

ما دې وطن وطن مې ما ته پرېږده
ما د وطن څخه جدا مه کوه

لږ له جفا څخه وفا ته راشه
ګوره له بل سره خندا مه کوه

اوښکې په مخ خومې سیلونه ښکاري
دومره ظلمونه نن په ما مه کوه

بیا به په څه دلته پښتو کوو موږ
ګوره سودا د پښتونخوا مه کوه

زه چې غېرت په خپل وطن کومه
ماته قیصې دې دبل چا مه کوه

د شهیدانو سره مینه لرم
ارماني مینه دبل چا مه کوه

❋❋❋

تاچې په زنه درې خالونه ایښي
زماپه زړه دې ډیر داغونه ایښي

چې درته ګورم لیونی شم ارمان
تاچې په زلفو کښې ګلونه ایښي

ورک شمه زه له دې جهانه ګلې
تاچې په شونډو کښې جامونه ایښي

مابه نوخود په ځان میئن کړې لیلا
تاچې منګې باندې لاسونه ایښي

ژاړم ارماني دا ستا د لاسه زه
تامي په زړه کښي چي زخمونه ایښي

***

اشنا مي د رقیب او د غماز غېږی ته ځي
لا دا ځومره نادان دی د رویبار غېږي ته ځي

چي هر تصویر ته ګورم د یار مخ مي شي ښکاره
دازه یم وررروان که ې بل یار غېږي ته ځي

ډیر دي عاشقان چي بې پروا ګرځي په مینه
په مینه قدم اخلي د نګار غېږي ته ځي

نه یم خبر دی نادان که جفا کار مي اشنا
کله یې رقیب کله یې دلدار غېږي ته ځي

یار مي ببوبا شو د بل چا سره خندا کړي
خود به یې ارماني ډیر په تلوار غېږي ته ځي

کور په کور جګړې وې چي خپل وطن ته ولاړم
هر خوا ته ادېرې وې چي خپل وطن ته ولاړم

نړېدلي وو کورونه وران شوي ګودرونه
دا دغم هلته شپې وې چي خپل وطن ته ولاړم

ځوک ګوډ شو ځوک ړانده شو د چاپرې شو سرونه
د مرګ دا واقعې وې چي خپل وطن ته ولاړم

دا نه وو معلوم چي د چا پلار او د چا ورونه دي
رواني جنازې وې چي خپل وطن ته ولاړم

څه شو د ګودر ها سپرلۍ هغه مېلې چي وې
پرتې را ته ابرې وې چي خپل وطن ته ولاړم

هر یو هلته ملا دی دعوې کړي چي اسلام دی
د خداي سره دهوکې وې چي خپل وطن ته ولاړم

ټولو وورووان کړی د اسلام او جهاد په نوم
بیا جوړې کنډوالې وې چې خپل وطن ته ولاړم

ورکې شوې قیصې هغه دمیني ارماني اوس
په پښو کښې زولنې وې چې خپل وطن ته ولاړم

***

و بې پښتو ته به سر ټېټ نه کړمه
و دې پرېدو ته به سر ټېټ نه کړمه

یمه پښتون زه پښتونخوا ګټمه
د چا زورو ته به سر ټېټ نه کړمه

کله پلورمه خپل وطن ملګرو
د چا پېسو ته به سر ټېټ نه کړمه

خپلې جرګې د پښتنو چې کوو
د بل جرګو ته به سر ټېټ نه کړمه

زه خو خوشحال او منلګ جان لرمه
ستا و شعرو ته به سر ټېټ نه کړمه

چې باچاخان او صمد خان دی زموږ
ستا و شملو ته به سر ټېټ نه کړمه

غواړم ارماني زه خپلوا کې مدام
ستا و میدانو ته به سر ټېټ نه کړمه

***

زه درنه اشنا غواړم دغه دنیا ثه کوم
مینه د ربښتیا غواړم دغه دنیا ثه کوم

اې خدایه مهربانه لږ رحم را باندې وکړه
کله زه دنیا غواړم دغه دنیا ثه کوم

نه کوم مینه د هر چا سره پښتون ځوان یم
زه خپله لیلا غواړم دغه دنیا ثه کوم

نه یمه نادان چي د هر چا پسې به ځمه
زه خو نظر ستا غواړم دغه دنیا څه کوم

زه خوار ارماني د محمد غوندي اشنا لرم
بله رضا ستا غواړم دغه دنیا څه کوم

***

په چا د میني اعتبار نه لرم
څوک بیا د خپل زړګی قرار نه لرم

واي چي ستا یم ستا په خوا درځمه
زه خو باور په دغه یار نه لرم

چي کله نن کله سبا کوي نو
د داسي خلګو انتظار نه لرم

څوک که قرباني په مینه نه کوي
ورسره هیڅکله زه کار نه لرم

وایم ارماني دغه ربنتیا مدام
ګرځمه تنها زه دلدار نه لرم

***

دا ستا په تمه هسي شپې تېروم
په ځان د هجر سرې لمبې تېروم

زه خو درځمه ستا کوخې ته اشنا
لکه مېلمه یو دوې غرمې تېروم

په تا میئن یم لږ دې مخ که ښکاره
نن دي کوخې کښې څو لمې تېروم

زه به درځمه د ګودر و خوا ته
لتا سره به څو شېبې تېروم

چي مسافر جانان مې ولاړې خلګو
د لیونتوب نو اوس شپې تېروم

زه ارماني د يو ديدن په تمه
دا ټوله ورځ دي په کوڅې تېروم

***

دا پښتونخوا وطن مي کوردی کوردی
دا لروبر افغان مي ورورډی ورورډی

د خپل وطن د غرونو باز يمه زه
په خپل هېوداکښې مي خيال نوردی نوردی

دقام په غم مي زړه هر وخت سوځېږي
زړه مي بدل په سوي سکوردی سکوردی

بيا به يو ځاي کړم لراوبر پښتانه
د غلامۍ عجبه اوردی اوردی

راځي چي جوړ کړو يو لښکر پښتنو
هېواد زمونږ د سترګو تور دی تور دی

مونږ به آزاد کړو خپل هېواد په وينو
زمونږ په متو کښې ډير زوردی زوردی

مونږ پښتانه خو سر په ننګ ورکوو
بې ننګي راته پېغوردی پېغوردی

نه چي ليکلي دخپل وطن شعرونه
له ارماني نه مي زړه توردی توردی

***

زه به دې اشنا کړمه ته که په دې خوا راشې
زړه به درنه غلا کړمه ته که په دې خوا راشې

زه په تا مېئن يمه ورمه تومتونه تل
مينه د رښتيا کړمه ته که په دې خوا راشې

پوه يمه په دې د بل په خولې رانه جلا شوې
بيابه دي پخلا کړمه ته که په دې خوا راشې

زه خو وفادار يمه وفا درسره کړمه
تابه باوفاکړمه ته که په دې خوا راشې

خلک که هرڅه وايي زې کله پروا کوم
بيابه دي رضاکړمه ته که په دې خوا راشې

سربه لتا جار کړمه په مينه ستا جانانه
پوه به دې صفاکړمه ته که په دې خوا راشې

واوره دزړه سره ارماني په تا ميئن يم
تابه په صلاکړمه ته که په دې خوا راشې

***

کله هېرېږي هغه ښه يادونه
خوږه خواږه ترخه ترخه يادونه
جانانه دومره صبره وکړه وايم
چي مي راياد شي څه نه څه يادونه

يوځل خو راشه چي دي وکړم ديدن
نه مي هېرېږي ستا زاړه يادونه

چي سر مي ستا په زنګانه وو کله
چي وم وېده هغه وېده يادونه

د وطن ننګ شي رانه پاته هلته
چي شي را ياد د زنګانه يادونه

څنګه زه هېر کړمه هغه خوندونه
تل راسره دي ستا د خله يادونه

څنګه به ستړګي غړوم وبل ته
ستا مي په زړه دي لا پراته يادونه

زه ارماني به هرڅه هېرکړم خلګو
هېرېږي نه د بېلتانه يادونه

***

خوار به مي خپل ځان شي ته که شوې جدا رانه
ورک رانه جهان شي ته که شوې جدا رانه

ته که رانه ولاړې ليونی به شم اشنا
څوک به مي جانان شي ته که شوې جدا رانه

اې د سترګو توره خفه نه شې له مانه
اور به دي هجران شي ته که شوې جدا رانه

مه مروره زړګی مي په منګلو کښېږي ليلا
دا زړمي پرېشان شي ته که شوې جدا رانه

زه ارماني شو مه بېزار دا ستا له کلي
يو به درست افغان شي ته که شوې جدا رانه

***

دا د يار تصوير دی بل به څه کوم
دا زما تقدير دی بل به څه کوم

سترګي يې کړې دي زما په لوري چي
غم کښېږي مي راګير دی بل به څه کوم

نه ورکوم چا ته خپل وطن زلمو
وېښ زما ضمير دی بل به څه کوم

زه به جانان خپل کړمه په مينه تل
زړه زما زهير دی بل به څه کوم

خندا به څنګه راته وکړی خلګو
يار زما په وير دی بل به څه کوم

خوار يم ارماني د يار پسي مدام
زړه زما دلګير دی بل به څه کوم

***

ليلا ته ګوره چي نن ما ته ګوري
سبا ې ګوره چي وچا ته ګوري

د چا په لمسه مې لیلا شوه لیرې
دا چې رقیب زما لیلاته ګورې

ماتر وفا غوښته جفا یې وکړه
د سې مېئن به خود هر چاته ګورې

نن چې یې لیلا تېرنه خفه ولاړه
مجبور عاشق یې وجفاته ګورې

د سې یارې نه بېزارې پکار ده
چې ستا د مینې مشغولاته ګورې

د خوبرویانو اشنایې نه توبه
ارمانې تل وما وتاته ګورې

***

تا راکړې چې غمونه دې تېرېږي
مرم خونه دغه دردونه دې تېرېږي

ستا د مینې لیونی ګرځم سحرا کښې
خبردی تېربه شي وختونه دې تېرېږي

تاویل چې تاسره مې مینه ده ګوره
لاپه زړه مې ستا لوظونه دې تېرېږي

وکړه ارمانې دخپل اشنادیدن دې
په زړګې دې توپانونه دې تېرېږي

***

ژوندون زما ستا په وعدو تېرېږي
ستا د راتلو په اُمیدو تېرېږي

چې ته رانه شې په ما ګرانه یاره
د اوښکو رود مې په ښهو تېرېږي

د یار په مینه چې هرڅه کړې قربان
د مینې ژوند د لیونو تېرېږي

ته چي غمونه راکوې وماته
ورځي اوشپې مي په دردو تېرېږي

جانانه ستا يم د راتلو په تمه
هره شېبه په اند ېښنو تېرېږي

دا ارماني شو سوداي په عشق کښې
لکه ماشوم په لخو پښو تېرېږي

***

مينه کښې دردونه دي پرې پوه نه شوم
هرخوا ته غمونه دي پرې پوه نه شوم

کله يې اقرار کله انکار پر خوله
دغه يې لوظونه دي پرې پوه نه شوم

يو مي په کابل بل پېښور کښې مرې
بل په ما اورونه دي پرې پوه نه شوم

ځي رانه ليلا مي بېوفا شوله
ورک رانه خوبونه دي پرې پوه نه شوم

هرځاى تر پښو لاندي پښتانه شوله
خوار مي ټوله ورونه دي پرې پوه نه شوم

ارماني وخپل قام ته حيرت وړی
ورک مو اندامونه دي پرې نه شوم

دومره په ګران دی بل به څه کوم
دا پښتونستان دی بل به څه کوم

زه چي پکښې اوسمه په مينه تل
زما دزړه ارمان دی بل به څه کوم

دلته مورِ خوشحاله يو په خپلو کښې
کور د صمد خان دی بل به څه کوم

ټول باندي نازېږي چي هېواد مو دی
دا په ټولو ګران دی بل به څه کوم

ساتي به په وينو خپل وطن زلمي
دا زما ايمان دی بل به څه کوم

ساتو به وطن د سر په بيه خپل
ګران په رمضان دی بل به څه کوم

***

ماته دي شه جامونه چي خوندونه اوس هغه نشته
ورک شه ساقي جانه مېخانې کښي دي مزه نشته

مرم خوپروانه کړمه درځمه مېخانې ته ستا
ماګوره دهوکه نه کړې چي دلته يو پياله نشته

ډير به وم خوشحاله که زه پروت د ساقي څنګ کښي وم
هلته زه خبر يم چي هيڅ غم او تماشه نشته

ډکي که پيالې غمونه ليری که له ما ساقي
دلته مانشه کړه زما بله اراده نشته

پربږده ساقي پربږده چي نشه شمه دلې اوسم
پروت به مېخانې کښي يم زما بله قيصه نشته

ولاړمه نشه شوم ارماني د يار په مينه کښي
ګورمه و ځانته چي زما غوندي نشه نشته

***

ستاد يادوسره مي ژوند دی ته په څه خبريې
له ډير غموسره مي ژوند دی ته په څه خبريې

جانانه ته زما جانان يې بل زه څه پېژنم
داند ښښنو سره مي ژوند دی ته په څه خبريې

لتانه ليري مسافر په بل هېواد کښي اوسم
داچي پردو سره مي ژوند دی ته په څه خبريې

زه دي غمو کښی هم خوشحاله یم خفه جانانه
ستا تصویرو سره مي ژوند دی ته په څه خبرېې

که ټول جهان رڼا رڼا شي زې به څه کومه
له تورو شپو سره مي ژوند دی ته په څه خبرېې

یمه خوشحاله ارماني په دې زما جانانه
د پښتنو سره مي ژوند دی ته په څه خبرېې

***

راځي چي جوړ پښتونستان کړو زلمو
دخان شهید کور به ودان کړو زلمو

بیا به وي جرګې او مرکې دلته
دغه وطن چي دخپل ځان کړو زلمو

ترخو به ژوند د بل په نوم کوو موږ
پاځی چي جوړ ځانته نشان کړو زلمو

شي به رڼا خوره وره ارماني
پیدا چي لږ غوندي پوهان کړو زلمو

***

په دي کوڅې چي ښایستې تېرېږي
په زړه زما د اور لمبې تېرېږي

ستاو راتلو ته یم لېوا له ګراني
کله په ما د هجر شپې تېرېږي

ماته را یادي د جنت شي هوري
منګي په سرچي پښتنې تېرېږي

ستا په راتلو مي ټول وجود شي تازه
بې تا مي زړه کښي تلوسې تېرېږي

په ښکلې مخ یې ارماني کړم میئن
اوس نو مخ پټ په سرې غرمې تېرېږی

***

چي تورپيکي په مخ شانه کړي اوس بيا
عالمه مابه ديوانه کړي اوس بيا

دا چي په ناز ناز قدم راواخلي نو
په غم به ما ګوره اخته کړي اوس بيا

چي ځان سينګار کړي و ديدن ته راشي
هم به زما غزل ښايسته کړي اوس بيا

د ميني چل و ماته دا راښي
پوهه به مي دا په يارانه کړي اوس بيا

له مانه ورک شي د دنيا غمونه
ما چي په کورکښي خپل ميلمه کړي اوس بيا

زه ارماني به بيا نشه نشه يم
ماچي په سرو شونډو نشه کړي اوس بيا

***

ټول سره يوځاي دي ماپرتااوتاپرماوژني
هيڅ ګناه مونشته ظالمان مو خامخاوژني

کړى يې داهوډدى چي پښتون به نه پرېږدو دلته
نه پرېږدي هيڅ ځوک هم موطالب هم موملاوژني

بياراته يوځاي دي د رنجيت او د بابر بچي
دوي په دې رضادي چي بچي داحمد شاه وژني

دا زموږ ترمنځه چي توپېريې پيدا کړى دى
نه پوهېږو موږچي مولادوي په څه ګناه وژني

مه کوى جنګونه نوردرځي چي سره يوشواوس
هم دازموږدښمن به موبياګوره په چاوژني

ګوره ارماني پښتون په خپله سره خوري يوبل
شک په دې کښي نشته چي دښمن يې هم په داوژني

***

ګرځم سرګردانه ستا په عشق کښې زه
یمه پریشانه ستا په عشق کښې زه

ورک رانه خپل ځان دی اوس به څه کوم
مرم دي له هجرانه ستا په عشق کښې زه

مانه مرور ګرانه په څه شولې
غواړم دي جانانه ستا په عشق کښې زه

ماته دي پېغور دا ټول وطن کړلو
وړم تومت له ځانه ستا په عشق کښې زه

تاته چي رقیب خندا په ناز کوي
بیا شمه حیرانه ستا په عشق کښې زه

نن که ارماني درشم دیدن ته ستا
ډیر به شم ستومانه ستا په عشق کښې زه

***

مورې پښتانه پښتونستان جوړه وو
د خان شهید د زړه ارمان جوړه وو

مورې له امونه تر اټکه یو یـوو
پردغه خاوره خپل نشان جوړه وو

پښتنو ځي چي خپل وطن آزاد کړو
ښکلې وطن د باچاخان جوړه وو

زلمیانو پاخي دا خوبونه پرېږدي
مورې د زلمونه میرویس خان جوړه وو

ترڅو به داسي غلامان یو د بل
آزاد وطن افغانستان جوړه وو

په خپله خاوره ارماني جنګېږي
واي اوس دلته یو کاروان جوړه وو

***

ولاړ شمه لمبه شمه چي ستا ته تصویرته وګورم
خاوري شم ایره شمه چي ستا ته تصویرته وګورم
ورک شمه له ځانه د مجنون غوندي سحرا ته ځم
داسي بېګانه شمه چي ستا ته تصویرته وګورم
ته چي راته نه خاندي وژاړمه ستا تصویرته
بیا په دي غصه شمه چي ستا ته تصویرته وګورم
ته چي رانه ولاړې نو اوس زه په غم اخته شومه
زه په دې خفه شمه چي ستا ته تصویرته وګورم
یوزه خوار ارماني یمه ستا غموکښي تل اوسم
بیا په غم اخته شمه چي ستا ته تصویرته وګورم

***

ماته خوږه یې له هر چا محبوبي
ځکه نازیږمه پر تا محبوبي
راسره مه کوه ټګي نازکي
وکړه لوظونه د ربښتیا محبوبي
خلګ مي ولي اوس په کاڼو دلته
غواړم چي ولاړ شو په سحرا محبوبي
ته چي له ما سره نن کډه وکړې
رقیب به شي بیا به په ژړا محبوبي
محبوبي تا سره چي زه جوړه شم
بیا دي پناه شي دا دنیا محبوبي
خبر دی تېرېږي دغه شپې تېرېږي
رمضان به ستا وي خامخا محبوبي

***

## د آغاجان همدرد کلام

الله دي تل ترتله تالري ودان ارماني
خداي دي پوره که دزړګي هریو ارمان ارماني
چي همیشه دي د پښتو ژبي خدمت کړی دي
په شاعرانو کښي لري نوم او ننبان ارماني
دغلیم سترګو کښي اغزه ي خاص په دغه سبب
واي پرپښتو باندي میئن دی رمضان ارماني

صفت د دسي زلمو خوند کوي همیشه ي کوم
همدردو اي خداې دي ښتا یسته که په ایمان ارماني

***

خوک نه منم په خپل جانان نازېږم
په خپل وطن پښتونستان نازېږم
سر به قربان د پېروان په شان کړم
هم په شهادت د ساقي جان نازېږم
زه برکت او رمضان یادوم
له دوي سره په متهاب خان نازېږم
وزیرا کا چي مو هېر نه شي ګوري
بل په ډاکټر دي صمد خان نازېږم
دا کلیوال او اولسیار ستایمه
زه په منظور او صاحب خان نازېږم
یو جان محمد او بل کریم یادېږي
په باز محمد او سعید خان نازېږم
حبیب الرحمان او صابر شاه دی خلګو
له دوي سره په خالد خان نازېږم
ډیر شهیدان له مانه هېر دي خلګو
په شیر علي او حامد خان نازېږم
نه فیض الله نه جلات خان هېروم
زه ارماني په صمد خان نازېږم

یو څو شعرونه

د ګل او دا غزي سره په ځنګ کېنبی او سم
دلیوني سړي سره په ځنګ کېنبي او سم
هرڅه ي رانه لوټ کړی د دوستی په نامه
زه لا د پرېدي سره په ځنګ کېنبي او سم

***

اوس لاغوتی ګل شوې نه ده زه به ځنګه درشم
چي لیونی خپل شوې نه ده زه به ځنګه درشم
هله به درشم چي ټوټې ټوټې وطن یوځاي کړم
چي مي پګړی ول شوې نه ده زه به ځنګه درشم
زه خو د وطن د جوړېدو ارمان په زړه لرم
لا پښتونخوا خپل شوې نه ده زه به ځنګه درشم

Tanki Armanuna Poet / writer: Mohammad Ramazan Armani
Published by: www.pashtoonkhwa.com
Sat 06. December 2014